www.howd.org
هوډ
سياسي، ټولنيزه او کلتوري خېرونه
تاريخ نشر: ۲۰۱۱/۰۴/۰۲

# دبناعلی الحاج الهام الدين قيام د شعرونو بيلګی

دا شعرونه :

- افغان وژني
- سپرلی نه ده
- دمحتسب زياړي
- سپرليه
- سپينه واوره
- دکابل واوري
- د ميني شهيد
- دميني شعار

## افغان وژني

چه انسان خپله ،دښمن دانسان جوړ شي
هسې نوم يی دانسان وي،شيطان جوړشي
تا اشرف المخلوقات پيدادي خدايه
وروسته ولې ترې خونخواره ليوان جوړشي
انسان ګوره چه په خپل لاس انسان وژني
زاړه وژني،ځوانان وژني،کوچنيان وژني
دانسان نوم ورته نه ښايي، نورخدايه
ځوک چه پلاروژني،موروژني ،خپلوان وژني
زړونه ندي،هسې کاڼي دي سينوکې
چه په خوب ويده معصوم ،ماشومان وژني
څه ګيله به له کافر،ددين دښمن کړم
مسلمان ورورمي،خپل وروړمسلمان وژني
ځوک ځانونه ستا ددين پتنګان بولي
ستا رضاته ستا ددين ،عاشقان وژني
لويه خدايه مونږ عاجز بندګان ستا يو
دلته ستا په نوم ځوک ستا بندګان وژني
داسلام په نوم دښمن داسلام،جوړدي
دوی په هرځای کې ،پيرو دقران وژني
خدايه خپل مو ديردو مزدوران جوړشول

مونږپه خپلودپردو اجیران وڅ ني
اوس قیام ته دومره پته لګي خدایه
که کافرکه مسلمان دئ،افغان ژني

والدورف/جرمني

*****

## سپرلی نه ده

ساړه ولاړو،هواښه شوه،وخت بهاردئ
وني شني شوې،غوټی ګل شوې،جوړسینګاردئ
خوپه خوارولس ،سپرلی راغلئ نه دئ
دلته مرګ دئ، دلته چوردئ،دلته ډاردئ
سپرلی هغه دی چه زړونه پکي خوښ شي
دخفګان نه ډک ،سرونه پکي خوښ شي
دولس مړي ارزوګاني،راژوندئ شي
غمځپلي ولسونه پکي خوښ  شي
چه بې ډکه له خوښیو  زولی نه ده
هسي نوم بې دسپرلي دی،سپرلی نه ده
په مونږ شپه او ورځ،بمونه راوریږي
له اسمانه سره تندرونه را وریږي
لکه مونږبه پکي وسوزي سپرلیهم
دباران په ځای ،اورونه راوریږي
دلته چا دخوښی مخ لیدلی نه ده
هسي نوم بې دسپرلي ده،سپرلی نه ده
دلته جنګ دئ،په وطن موسوراوربل دئ
اوس نو خوښه دسپرلي،اختیار بې خپل دئ
که راځي سوله دي هم ،ځان سره راوړي
که ځا لي لاس راغی ،بیا بې نو ازل دئ
دقیام پیغام ،یو ځوک سپرلي ته وروړئ
چه هیځوک له دي ځای روغ وتلی نه ده
هسي نوم بې دسپرلي ده،سپرلی نه ده
والدورف/جرمني

******

## دمحتسب زیاړی

لامـــوړشوې دجـــــانـــان پـــه دیدار نـــه وم
لا پـــه غیـــړه کـــــي تـــود شوئ دیار نـــه وم

زه پــه غـــلا ديــار ديـــدن تـــه وم راغلي
لا لـــه ډاره لــــړزيـــدمـــه،قـــرار نـــه وم

لاديارسره دسترګوپه جنګ بوخت وم
لا د ســـرو شنډو شـــرابـــو خمار نـــه وم

محتسب خواته په چيغو سر ته راغئ
خبـــر شـــــوي لـــه اذ انـــه سهار نـــه وم

زه قيام دمحتسب په زياړوخـــوښ و م
چې ليدلى دخپل يـــار ظالم پلارنه وم
والدورف/جرمني

******

## سپرليه

خداى دي راولي په مونږ دخوښى كال بيا
چه نه جنګ وي،نه جګړه وي،نه جنجال بيا
ته سپرليه دلته ديرش كاله ،رانغلي
زمونږ واخله پس له ديرش كاله احوال بيا
دلته بيا له خوښى ډک، سپرليه راشه
چه ځوانان اوځوانى ګډزانګي په تال بيا
دخوښيو زولى ډکه، مونږ ته راوړه
چه پرې مونږه خفه زړونه کړو، خوشال بيا
كه راځې سپرليه، داسې سوله راوړه
چه راټول شي په خپل كور،ټول هيوادوال بيا
چه داوران،ويجاړوطن،بيرته ودان کړو
چه دسيالوسره كړو،ځانونه سيال بيا
دوحدت لاسونه بيا يو بل ته ور كړو
چه دښمن ته ورپه برخه كړو ،زوال بيا
چه ټول ګډ په وراندې ولاړشو،ترمنزله
چه همت ته مو حيران شي،نړيوال بيا
دقيام دزړه ډير ستر ارمان دى ،خدايه
چه په برخه دافغان شي،استقلال بيا
والدورف/جرمني
دنوروز ورخ كال ۱۳۹۰

******

## سپینه واوره

خدایه څومره ښکلي ښکا ري،په غرو واوره تکه سپینه
ځمکي سپین بخمـــــل اغوستئ،تښنوي دزړونو مینه
ونوسپین کالـــــي اغوستـــي،په زړه پوري منظره ده
هره ونه لکــــــــه ناوي ښکاري،ښکلــــــي مرغلینه
خدایه ته خومهربان یې،داســـــــی واوره په مونږ وکړه
چه مـو تور زړونه راسپین کړي،چـــه نور نه تویوو وینه
زه قیام درته زارئ کړم،خدایه سپـــــین کړه تور نیتونه
مونږه ټول سره په خولا کړه،له امــــــــــو تر اباسینه
والدورف،جرمني

******

## دکابل واورې

دالپ غرونه واورو پټ کړل،دپغمان غرونه رایادشول
جګ په سپینو واورو ښکلي،دپروان غرونه رایادشول

چه له واوروجوړشي غرونه،سالنګونه راپه یادشول
چه دمرګ ژوبلی لامل شی،برفکوچونه راپه یادشول

دکابل واورې رایادشوې،راپه یادوراني کوڅي شوې
چه نه در،نه یی کړکي وې،وران کورونه راپه یادشول

چه پرې سپینه واوره اوري،سر پناه یی په سرنه وي
داپخپل کور کي بیکوره،فامیلونه را په یادشول

نه برستن ،نه یی شړئ وه،نه منقل نه بخارئ وه
په تن لوڅ ،په خیته وږي،ولسونه راپه یادشول

یتیمان سترګوته راغلل،لوڅ لغړ ببرسرونه
چه لادوی یی انتظارکړي،ورک پلرونه راپه یادشول

دوطن مشران رایاد شول،چه اوس هریو میلیونردئ
زره کی کرکه راپیداشوه،مات قولونه راپه یادشول

دقیام له سترګو اوښکي،دخفګانه راجاري شوې
بهیدلي یی ګریوان ته،تیریادونه راپه یادشول

******

## د میني شهید

مه مي مینځئ خلکو چي وژلی مي خپل یار یمه
زه ګــورئ شهید یم ، ځــم جنت ته ورپه لار یمه
زه بـــه په جنت کـــي خـــپل قاتل ته انتظاریمه
غواړم یـــي جنت کـــي زه د خپل یار طلبګار یمه
دا مي دی وصیت خلکو نادان یار ته مي ووایئ
ما د مـــیني پـــور، پـــوره ادا ندی قرضدار یمه
رادي شـــي جنت تـــه لا دمینـــي پـــوروړی یم
بیا که رانه ژوند غواړي ، هرڅه منم تیار یمه
وي که د خدای امر ، چي زما قاتل دوزخ ته وړي
ځم ورسره هلته ، خوښ په څنګ کي د نګار یمه
پوه یي کړئ چي بي له یاره ، زه جنت کي نه اوسم
زه په قوم پښتون یم ټینګ ولاړ مي په ګفتار یمه
یار چي په کي نه وي نو به دا جنت ، جنت نه وي
بیل چـــي لـــه یار اوسم زه له دې جنت بېزار یمه
یار غـــواړم لـــه خدایه ډېر یـــي تږی د دیدار یمه
زه قـــیام خپل یار ته لا تـــر اوســـه وفـــادار یمه

******

## دمیني شعار

لاترخوبه ،په شا وړو دکرکي بار بیا
راشئ پورته کړو،دمیني خوږشعاربیا
دنفرت له خزان ،واړه کډي بارکړو
تول دمیني په لار ورشو،تربهاربیا
دوروری اومیني،ښکلی دود رواج کړو
له ځان لیرې کړو،نفرت او انزجار بیا
کرکي مونږته،غټ تورتم کورته راوړی
چه په مینه داتورتم کړو،روڼ سهاربیا
کرکي واړه،دمرګونو په لار بوتلو
خو په مینه به پیداکړو،دژوند لاربیا
مینه خوږنعمت دخدای،کرکه غضب ده
خدای دي نکړي،په غضب مونږ ګرفتاربیا
چه څوک مینه ګناه وبولي،ګناه ده
له مونږمکړي خدایه،داګناه تکراربیا

چه د مينې په ثواب مونږ ،ټول خبرشو

نوپه کرکه به ځان نکړو،ګنهګاربيا

زه قيام به تل دمينې غزل وايم

چه په مينه ښنګ ته راولمه ،ياربيا

والدورف/جرمني